مورچل

پر افغانانو دبمبار وحشت
د افـغانانو مقاومت ټینګوي!!

یوولسم کال اتمه، پرلپسې ۱۰۸مه ګڼه، ذو القعدة۱۴۳۸هق، اګست۲۰۱۷م

- د سپتمبر د یولسمې په انتقام کې د صلیبي جګړې پایلې
- د اراکان په دردونکې غمیزه د اسلامي هیوادو پڅ غبرګون
- وړې خـــولې او غټې خبرې
- د سپتمبر تر پیښې ۱۶ کاله وروسته
- زموږ له هیواد سره د امریکا د دوستۍ بېلګې!!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

يو ولسم کال اتمه، پرلپسې ۱۰۸مه ګڼه، ذي القعدة ۱۴۳۸هق اګست ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د سپتمبر تر پېښې ۱۶کاله وروسته.....	۳
۳	ټرامپ د امریکايي پوځيانو وژل کيدل له ملي ګټو سره..	۵
۴	دټرمپ استراتيژي د بوش دپيل کړې د صليبي جګړې...	۷
۵	د اراکان دردوونکي غميزه د اسلامي هيواد و پخ غبرګون	۹
۶	وړې خولې او غټې خبرې.....	۱۳
۷	زموږ له هيواد سره د امريکا د دوستۍ بېلګې.....	۱۶
۸	د اسلام غزوات او سرايا.....	۱۹
۹	په برما کې ستر بشري ناورين او دنړۍ مجرمانه چوپتيا.	۲۲
۱۰	د سپتمبر د يوولسمې په انتقام کې صليبي جنګونه.....	۲۶
۱۱	جنګي جنايتونه.....	۲۸
۱۲	د مورچل وړمې.....	۳۰
۱۳	د اګست د مياشتې جهادي خبرونه.....	۳۲

د امتياز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

صلاح الدين "صارم"

کتنپلاوی :

حسن خېل | ايوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبير مسافر | حافظ سعيد

تخنيکي چارې :

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com



بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

پر افغانانو دبمبار وحشت

دافغانانو مقاومت ټينګوي!!

دټرمپ له نوې ستراټېژۍ سره سم امریکایانوپه افغانستان کې پرعامو افغانانو دبمبار وحشت پیل کړی د ورانیو او مرګونو نوی ناتار یې جوړ دی ، چې ګواکې په دې ډول بې دریغه وژنو او مرګونو به یې له خپل دریځه واړوي اوله مقاومته به لاس په سر شي .

په داسې حال کې چې مخکې یې هم هیڅ زور زیاتی نه دی سپمولی او ددغه مسلمان ولس په وژلو کړلو او خوړولوکې یې هر وس کړی !! او دې نتیجې ته رسیدلي هم دي چې زمونږ دهر نوي تیري اوظلم په وړاندې ددوی لامقاومت زمونږ دناکامۍ لامل ګرځېدلی! دهغې سره سره یې هم دهغه دریځ خپلولو ته ملاټړلې چې هر استکبار یې دلته په خپلولو کومه نتیجه نه ده ترلاسه کړې .

په دې وورستیوکې په هلمند، کندز، بغلان، هرات، ننګرهار، پکتیااو لوګر کې زمونږ ولسي- خلک ددغه وحشت اوبمباریو قربانیان دي امریکایانو او مزدورانو یې په لویه پیمانه او لوی لاس پرعامو ولسي- خلکودغو هوایي بمبارونوته شدت ورکړی، شاید چې هدف یې له طالبانو دولسي خلکو ملاتړ له منځه وړل او دطالبانو په ضد دهغوی راپاروول وي ، خو له طالبانو سره دولسي خلکو خواخوږي او ملاتړ کوم مادي او دنیوي رابط نه دی ، بلکې داهغه عقیدوي تړاو دی چې دې ولس یې په ساتنه کې دکمونستي تجاوز په وړاندې هم یونیم ملیون شهیدان ورکړي او هیڅ نوع سازش او اسایش ته نه دي تیارشوي .

ددښمن دهیلو په خلاف ددې په ځای چې عام ولسي خلک له طالبانو فاصله پیداکړي° نور هم ورنږدې کیږي، ددین او هیواد په وړاندې دیرغلګرو دښمني یې نوره هم زیاتیږي ، په دې اړه پاته شکوک یې په یقین بدلیږي او دتبلیغاتو اثر یې له منځه ځي، چې نتیجه یې دیرغلګرو په وړاندې دکرکې زیاتوالی دی اوبس .

هغه ځوان چې دکورنۍ ځوتنه غړي يې په دغه بمبار کې له لاسه ورکړي وو او کوربې وران شوی و° له ژونده نه دی مايوس، بلکې په انتقامي جذبه يې ويل چې په خپل کور کې په خپله برسټن کې هم نه يم خوندي او وژل کيږم ، نو ولې دې په مقاومت اودمقابلې په ډګر ونه وژل شم ؟

که تعقل په افغانستان کې دبهرنيو عسکرو ډېرښت، مرګونه او وژنې وي، داتجربه خو په افغانستان کې په تېرو اوولسو کلونو کې بار بار وازمويل شوه، ولې يې نتيجه معکوسه او پايله ناکامي وه ؟!!

په افغانستان کې دامريکايي پاليسو دناکامۍ لامل څه و؟! کوم اسباب او موانع وو چې امريکا او ناټو له ټول نظامي ځواک او قوت سره سره دلته خپلو مقاصدو ته ونه ورسيدل ؟!!

دهغه اوږده انتظار او پاليسۍ جوړولو نچوړ او خلاصه همدا شوه، چې په افغانستان کې دې پوځونه زيات او جګړه اوږده شي ؟!!

زمونږ په فکر په افغانستان کې دتېرو نږدې دوو لسيزو په موده کې دټولو سياسي اونظامي هڅو دناکامۍ دليل يواځې او يواځې دبهرنيو شتون او پرولس او مقاومت تشدد دی اوبس .

ولې په دغه نوي بدلون او مؤثرې ستراټېژۍ کې! ددغه لامل له درک سره سره بياهم پرولس تشدد او وحشت؟!!

نتيجه به يې څه وي ؟

ښکاره ده چې بيا ناکامي اوبېرته دپوځونو وېستل!

امريکايي چارواکو په افغانستان کې ددغه وحشت په خپلولو سره چې دنوې ستراټېژۍ يوه برخه يې ده، خپله راتلونکې ناکامي او رسوايي حتمې کړه، که رښتيا يې له تعقل څخه کار اخيستی وای او نوې ستراتيژي يې دعجلې مولود نه وای، بلکې دواقعيتونو په درک او حقيقتونو په اعتراف يې جوړه وای، نو حتما به يې هغه لاره خپله کړې وای چې داسلامی امارت له خواورته په يوه پرانيستي ليک کې واضح شوې وه او ويلي يې دي :

" تيرې تجربې را ښيي چې افغانستان ته د مزيدو ځواکونو راليږل د امريکا له مزيدې پوځي او اقتصادي تباهۍ پرته بله هيڅ توجيه نه لري، نو ښه داده چې د اضافه ځواکونو را ليږلو په ځای د ټولو امريکايي پوځونو د ايستلو ستراتيژي غوره کړئ، يقينا چې دا استراتيژي به مو له يوې خوا د همدی امريکايي پوځيانو د نجات ستراتيژي وي او له بلې خوا به مو د پخوانيو امريکايي چارواکو د اشتباهاتو په جبيره کولو سره د هغوئ جنګي ميراث ته د پای ټکی ايښودل وي".

د سپتمبر ترپیښې ۱۶ کاله وروسته

شاهد (غزنیوال)

شپاړلس کاله وړاندې په امریکا کې د سپتمبر د یولسمې خونړۍ پیښه رامنځته شوه.

په دې پیښه کې ریښتیاهم چې ډیر امریکایان مړه او ژوبل شول، او په اقتصادي لحاظ ورته ډیر لوی زیان واوښت.

سره له دې چې امریکایانو په نړۍ کې نور هم ډیر بدخواهان لرل خو دوئ د سپتمبر د پیښې په غچ کې پر افغانستان برید وکړ چې له امله یې د سلګونو زره بیدفاع افغانانو وینې وبهولې ، هغوی یې وکړول و ځوروول اوله هیڅ جرم پرته یې د ګونتنامو ، بګرام او نور سري زندانونه وربانديې ډک کړل.

ډیرى شنونکي په دې نظر دي چې د سپتمبر پیښه را منځته شوې په دې غرض وه چې له امله یې امریکا ته په افغانستان او ځینو نورو اسلامي هیوادو کې د پوځي مداخلې زمینه مساعده شي.

هغوی د دې پیښې د عاملینو د تعقیب او توقیف په پلمه هرچیرته چې امریکا وغواړي هلته پوځي ځواکونه ولیږي ، او د دائمي پاتي کیدو لپاره یې هلته دائیمي اډې جوړې کړي.

اوس چې د سپتمبر له پیښې پوره ۱۶ کلونه تیرشوي امریکایانو په دومره اوږده موده کې پرلپسې ډول افغانان د یادې پیښې په جرم وکړول خو کوم داسې څه یې وربانديې پیدا نه کړل چې له مخه یې په یادې پیښې کې د افغانانو لاس لرل ثابت کړي.

اوس امریکایان هم په دې پوهیږي چې هیڅوک هم نور دا منطق نه راسره مني چې مونږ تر یونیمې لسیزې وروسته هم د سپتمبر د پیښې د عاملینو د لټون په غرض دلته پاتي یو ، هماغه ده چې یوه بله مصطنعه پلمه یې تراشلې او اوس غواړي چې ۱۶ کاله نور د هغې د ځپلو او له منځه وړلو په نیت افغانستان تر خپل اشغال لاندې وساتي.

د امریکایانو دغه نوې مصطنعه پلمه د داعش په نوم وژونکي تروریستي ډله ده چې د هیواد په ختیځ کې له ډیورنډ فرضي کرښې هاخوا افغانستان ته را دا خل کړل شوه.

په افغانستان کې د دې پلمې له ایجاده سره له امریکایانو څخه د سپتمبر خونړۍ پیښه هیره او اوس یې ډونلډ ټرمپ د خپلې جنګي ستراتیژۍ د عملي کولو لپاره نور اهداف ټاکلي.

هغه مشهور متل دی چې وایي دروغجن حافظه نه لري

امریکایان چې افغانستان ته د سپتمبر د پیښې د عاملینو په پلمه راغلي او دلته یې پوره ۱۶ کاله افغان وژنه کړې نن یې پرونۍ پلمه له یاده وتلی او د نورو نامعقولو پلمو په ارائه کولو سره غواړي په افانستان کې خپل اشغال ته دوام ورکړي.

هغوی د یوه بل اسلامي هیواد عراق په اشغالولو کې هم کټ مټ دغسي رول تر سره کړ.

هلته یې د عراق د مشروع حکومت پر خلاف د کیمیایي وسلو لرولو په تور برید وکړ، د دې هیواد منتخب ولسمشر- صدام حسین یې لومړی اسیر او بیا د اشغال تر سیوري لاندې جوړې شوي محکمې پر اعدام محکوم کړ.

په اشغال شوي هیواد کې د اشغال په لس کلنه دوره کې د دې هیواد ټولې زیربنایي پروژې تخریب او خواو شا ۴ لکه مظلوم عراقیان ووژل خو وروسته خپله امریکایي استخباراتي چارواکو په دې اعتراف وکړ چې مونږ په عراق کې د تیرو لسو کلونو په جریان کې د کیمیایي توکو هیڅ نښه او نمونه تر لاسه نه کړای شوه.

هو امریکایي پوځي او استخباراتي چارواکو له عراق څخه د خپلو ځواکونو د پرشاتګ په مهال په داګه وویل:

((مونږ په دې پلمه د عراق د حاکم مشر- صدام حسین د حکومت پر خلاف پوځي برید وکړ چې هغه کیمیایي وسلې لري، خو اوس چې د هغه حکومت له منځه تللی او د حکومت ټول پوځي مراکز او د وسلو جوړولو کارخاني زمونږ تر لاس لاندې دي مونږ په هغو کې د هیڅ ډول بیولوژیکي وسلوځرک و نه لګاوه))

http://siad app.dior.whs.mail/personnel/CASALTY/castop.htm

زمونږ په هیواد باندې د یرغل په اړه هم د امریکې د وخت امنیتي سلاکارې او پخوانۍ خارجه وزیرې کوندي لیزا رایس تیرکال په واشنګټن کې د اکتوبر په اوومه پر افغانستان د امریکایي یرغل د ۱۵ کلیزې په مناسبت جوړې شوې غونډې ته په ښکاره اعتراف وکړ چې افغانستان ته د امریکایي ځواکونو لیږل په افغانستان کې د امنیت تأمین نه بلکې د امریکایي مصالحو تأمینول و.

امریکایان د نړۍ د ترټولو بدنیته او شریرو خلګو په توګه په نړۍ باندې یواځې د خپل شریر حاکمیت مفکوره په سرکې لري.

هغوی د دې شریرې مفکورې د عملي کولو لپاره نور هیوادونه تر خپل پوځي اشغال لاندې ساتي او د هغوي آزادي سلبوي خو افغانستان د امپراتوریو د هدیرې په توګه داسې هیواد دی چې تل اشغالګري امپراتورۍ د هغو له شریریرونیتونوسره ورکې دفن شوي .

یرغلګر امریکایان به هم که خدای کول له خپل ټول وحشت او بربریت سره داسې ورکې ډوبیږي لکه تر دوی وړاندې چې انګریزان او شورویان ورکې ډوب او پراخې امپراتوري یې ورکې وشړیدلې.

ان شاء الله

و ما ذالک علی الله بعزیز

ټرامپ د امریکایي پوځیانو وژل کیدل

له ملي ګټو سره په ټکر کې بولي!!

لطیف ع

نیـــږدې شـــپې ورځـــي داشـغالګروامریکایي پوځیـانو لپاره په افغانستان کـې سـختې خونړی اولـه هراړخیـزو زیانونـه ډکـې دي ، پـه کنـدهار، کابـل ، پروان اولوګرکې یې دتیرو دریـو ځلورو ورځوپه ترڅ کـې ۳۶ تنـه عســکر دیــولړ هدفمنــدو او کارندو بریدونوپه ترڅ کـې مړه اوله کاره ولویدل.

دروانـي مـیلادي میاشـت (اګست) پـه ۲ورځ دکنـدهار هـــوایی ډګرتـــه نیـــږدي د امریکایي عسکروپه قـافلې یـوه فـدایي اتـل خپـل لـه بـاروتوډک موټروجنګـــاوه اوچاودنـــه یـــې پرې وکړه چې پـه نتیجـه کـې دوه غټ امریکایی ټانګونه لـه ناســتوامریکایي عســکروسره چې شمیره یـې ۱۵ تنـه ښـوول شـوي ایـره ایـره او لـه منځـه یووړل

په همـدې ډول داګست پــه ۳ نیټــه دپــروان ولایــت اړونـد دبګـرام امریکـایي اډې تـه نیـږدي ۱۱ تنـه اشـغالګر امریکایـــان پـــه هغـــه فـــدایی بریدکې مړه او ژوبل شـول چې ام ریکایی عسکرد سړک دواړو غاړوته د تالاشی لپاره ولاړ وو چې ناڅاپـه او لـه نیـږدې ځخـه پـري دموټرسـایکل پـه توسـط برید وشواودرنه مرګ ژوبله یـې ورواړوله.

دغه راز داګست میاشـتې په ۳ نیټـه د کابـل ولایـت قـره بـاغ ولسـوالی مرکـز تـه نـږدې سـیمه کـې پـه پلـو امریکـایي عسکرو تکتیکـي قـوي چاودنـه ترسره شوه ، پـه نتیجـه کـې ۷ تنه اشغالګرمړه اوژوبل شول

اوداګســـت پـــه ۴ ورځ دلـوګر ولایـت دبرکـي بـرک ولســوالی مربــوط دټنډانوپــه سیمه کـې امریکایـانواودهغوئ مزدورانـــو غوښـــتل چـــې پـــه نوموړي سـیمې کـې تصـفیوي عملیـــات تـــرسره کـــړي چـــې دمجاهدینولـه کمینونـوسره مـخ اوترمحاصري لاندي یې راغلل ، پـه پایلـه کـې دوه امریکـایي ټانګونه تخریـب ، ٦ عسکریې مـړه اوګـډ مـزدوران یـې لـه منځه یووړل شول

یـــادي پېښـــي او د امریکـایي عسـکر ووژل کیـدل پنتـاګون منلي اوویندوی یې دکموتلفاتوپـــه یـــادولوسره افسوس ښکاره کړی چې ۱۷ کاله ورسته هم په افغانستان کـې امریکـایي عســکر وژل کیږي

لـه بـل لـوري دټرامـپ سلاکار (راجراستون) رسنیوته ویلي چې مونږ له کابل رژیم سره مرسـتي تـه چمتویـوولې دټرامپ لپاره داخبره دمنلونده چې اوس دي هـم پـه ړومبیـو کرښـو کـې امریکـایي عسکر ووژل شي.

نوموړي دټرامب دا خبره تکرار کړي چې په افغانستان کې د امریکایی عسکر ووژل کیدل دامریکا له ملي ګټوسره په ټکرکي دی او دالړی باید ودرول شي .

دټرامـــپ دســـلاکار او دپنتـاګون دویانـد لـه ورسـتیو څرګندونو څخه ښکاري چې پـــه تیـــرو۴۸ ســـاعتونوکې دنیـــږدي ۴۰ تنوامریکـــایی عسـکرومرګ ژوبلـې دسـپیني مـــانې اوپنتـــاګون ســـختي اندیښني راپارولي اوپـه جدي توګـه یـې داسـوچ ورغورځـولی چې په هره بیه وي نوربائیدپه افغانســـتان کـــې امریکـــایي عسکرونه وژل شي

همدغـه علـت دی چـې ټرامـپ افغانسـتان تـه دنـورو عسکرودلیږلوستراتیږي ردکړه ،دپنتـــــاګون جـــــنرالان اوکارپوهان یې ورټل اوحتی په دې خـبره یـې هـم غـور پیـل کړچې څنګـه پـاتي امریکـایي عســکرله افغانســتان څخــه راوباسي.

دچارو دماهرینوپه انـد کـه چیـري نـوري داسـې پیښـي لکه په تیرودریوورځوکې چې مخـې تـه راغـلي تکـرار شي اوامریکـایي عسـکروته پکـې درنه مرګ ژوبلـه واوړي زیـات اټکـل دادی چـې ټرامـپ بـه اړومرولـه افغانسـتان څخـه دخپلـو پوځیـانو دبیرتـه تـګ سـتراتیژي اعلانـوي ، ځکـه ټرامـپ دوه اونـی وړانـدې همدغه پوښتنه لـه امریکـایي جنرالانوڅخه مطرح کـړي وه چـې لـه ۱۷ کلونوورسـته ولـې مونږ په افغانستان کـې جګړه پرمخ بیایو او کوم قـاطع بـری نلرو؟

د ټرمپ جنګي ستراتيژۍ

د بوش د پيل کړې صليبي جګړې ناکام تسلسل

احمد مختار

امريکايي ولسمشر په افغانستان کې د امريکايي اشغال د تداوم او د بوش لخوا د پيل کړې صليبي جګړې د جاري ساتلو په غرض د افغانستان لپاره خپله جنګي ستراتيژي د بمونو اورولو په يوه خونړۍ لړۍ سره پيل کړه.

د ټرمپ يادې ستراتيژي د کميت او کيفيت له لحاظه کټ مټ د ډبليوبوش د هغې صليبي جګړې اعلان ته ورته يو ظالمانه اقدام دی چې ۱۶ کاله وړاندې يې د سپتمبر د خونړۍ پيښې د غبرګون په پلمه د افغانستان د مظلوم ولس پر خلاف پيل کړه.

د سپتمبر پيښه چې د افغانستان له خاورې په لسګونوزره کيلو ميټره ليرې پيښه شوې او افغانانو ورکې هيڅ ډول دخل نه درلود داسې يوه پيښه ده چې په نړۍ کې د ډيرو تحولاتو لامل ګرځيدلې خو خپله د دې د اصلي ماهيت او حقيقت په اړه لا اوس هم ډيرې پوښتنې بې ځوابه پاتې دي.

د دغو تحولاتو له جملې څخه يوهم د امريکايانو لخوا د افغانستان اشغال وه.

د امريکايي اشغال د پيل په مهال افغانستان د اسلامي امارت تر واکمني لاندې وه .

اسلامي امارت د يوه مسؤل جهت په توګه له امريکايانو څخه وغوښتل چې کوم اسناد چې امريکايان يې له مخه پر افغانستان بريد کول غواړي له هغوی سره شريک کړي ، خو امريکايانو په خورا بې اعتنايي سره د اسلامي امارت دغې منطقي غوښتنې ته په نه ځواب ويلو سره په افغانستان پوځي بريد وکړ چې د امريکايانو دې بې اعتنايي د نومورې پيښې په اړه نورهم ابهامات زيات کړل .

که امريکايانو هغه مهال د سالم تعقل پربنياد امارت ته په نومورې پيښه کې لاس لرلي اسناد وړاندې کړی وای ، ښايي د دغې ستونزې د حل لپاره يوداسې مناسب حل لټول شوی وای چې هم له شرعي او ديپلوماتيکه اړخه د دوی د حکومت وقار پرځای وای او هم دغه ستونزه له زور اوجګړې پرته د تفاهم پراساس حل شوې وای.

د سپتمبر تر پیښې وروسته امریکایانو له تروریزم سره د مبارزې په نوم نړیواله جګړه اعلان کړه.

دغه جګړه د امریکاپه مشرۍ ظاهرا له تروریزم سره د مبارزې په نوم اعلان شوه خو په حقیقت کې همدا جګړه په نړیواله کچه د دولتي تروریزم د رشد، تقویې ،توسعې اونړیوالې بې ثباتي لامل وګرځیده .

ځکه د سبتمبر په پیښه کې د ټولو وژل شویو کسانو شمیره ۲۹۷۳تنه او دورک شویوشمیره ۲۴ تنه تثبیت شوې، خو د امریکاپه مشرۍ د اعلان شوې جګړې د قربانیانو شمیره د افغانستان او عراق په اشغال سربیره لکونو انسانانوته رسیږي ، همدا راز د دغې جګړې د مفقودینو ، زخمیانو او اسیرانو شمیر ښایې تر میلینونو هم واوړي.

د ګونتنامو زندان چې د سپتمبر د پیښې د عاملینو د مجازات او محاکمې په پلمه جوړ شوی و خو هلته ورکې د افغانستان د اوروزګان ولایت ۹۰ کلن سپین ږیری او د خوست ولایت ۱۴ کلن ماشوم هم کلونه کلونه بی محاکمې اسارت تیر کړ .

په دې سره ویلای شو چې د ۲۰۰۱ کال د امریکا په مشرۍ د مسلمانانو پرخلاف دا صلیبي ایتلاف د هغې صلیبي جګړې چې په کال (۱۰۹۶- ۱۲۹۱) میلادي کې د مسلمانانو پرخلاف پیل شوې وه ډیر خطر ناک او له سیاسي او پوځي لحاظه ډیر منظم او مجهز وه.

د دغه صلیبي ایتلاف په تشکیل سره نه یواځې داچې امریکا د یوه صلیبي ځواک په توګه پر نورو صلیبي هیوادونو خپل حاکمیت ومانه ، بلکې د صلیبي هیوادونو تر څنګ یې د ټولو اسلامي هیوادونو په حکومتونو هم خپل قیادت تحمیل او ټول یې د خپلو توسعوي عزائمو د عملي کولو په غرض له تروریزم سره د مبارزې په پلمه د اسلام او مسلمانانو پرخلاف استخدام کړل.

اوس چې ټرمپ د جنګي ستراتیژي په نوم په افغانستان کې د بمونو تر سیوري لاندې کومه طرحه اعلان کړې هغه له پیله په داسې شکست او ناکامي محکومه ده لکه د ډبلیوبوش ناکامه صلیبي جګړه چې د لسګونو زره امریکایانو پر مرګ ژوبلې او تریلونونو ډالرو پر لګولو سر بیره چې نن خپله ټرمپ په سپینه مانې او امریکایان په واشنګټن کې د ځان د خوندیتوب او مصؤنیت احساس نه کوي.

وخت او شرائط به د هغوي فضیحت او ناکامي نوره هم څرګنده کړي او په اسلامي افغانستان کې به مجاهدین د الله په نصرت او اسلامي جهاد په برکت د دښمن ټول پلانونه له ماتې سره مخ کړي.

ان شاء الله

داراکان په دردونکي غميزه
د اسلامي هيوادو پخ غبرګون ....

بشير

د مشهور عباسي خليفه هارون رشيد په زمانه کې دعربي سوداګرو يوه تجارتي قافله اوسني غم لړلي اراکان ته ورسيده، په لنډ وخت کې دقافلې دسوداګرو کړو وړو دسيمې د خلکو زړونه فتح کړل او په لوی شمير کې خلک دهغوی داخلاقو، ديانت او انصاف نه په تاثر اخستو مسلمانان شول

په دې توګه دعربي سوداګرو او دسيمې خلکو ترمنځ دباور او اعتماد اړيکي پسې وغځيدل او ددې لپاره چې نوي په اسلام مشرف شوي خلک په پوره توګه داسلام څخه خبر او علم ترلاسه کړي، يوشمير عربي سوداګر هلته په اراکان کې مستقل ميشت شول ، ځکه هغه مهال د مسلمانانو سوداګرو موخه يوائې سوداګري او تجارت نه وو، بلکې د تجارت ترڅنګ داسلام دمبارک دين دعوت او تبليغ يې هم خپله لويه دنده او فريضه ګڼله ،همدا لامل دی چې داوسنی اسلامي نړۍ ګڼ شمارونه او هيوادونه د اسلامي لښکرو لخوا ندې فتح شوي بلکې دمسلمانانو سوداګرو داخلاقو ، تقوا او سپيڅلتيا نه په متاثر ګرځولو سره دنړۍ په بېلابېلو قومونو کې لوی شمير خلک په اسلام مشرف ګرځولي چې په دې لړ کې تفصيلات راسپړل ليکنه طولاني کوي...

خبره مو کوله چې يوشمير عرب سوداګر په اراکان کې د سوداګرۍ ترڅنګ داسلامي دعوت او تبليغ په موخه ميشت شول ، په دې توګه کرار ، کرارهلته دمسلمانانو شمير زيات شو، بسته ښارونه او سيمې دمسلمانانو شوې، بالاخر مسلمانانو د ځانو لپاره دملک سلمان په نوم يو تن دخپل وطن پاچا په توګه غوره کړ او داراکان په رسمي سيکه يې درسول الله ﷺ د مبارک نوم ترڅنګ دخلورو راشدينو خلفاوو نومونه اوکښل....

دهغه وروسته تر پيړيو، پيړيو په اراکان دمسلمانانو حکومت و، مسلمان پاچايان ديوبل وروسته راتلل ،خو بودايي راهبانو له لومړي سره

دمسلمانانو سره د دښمنۍ ، کينې او عقدې لار نيولې وه، ورته اسلام او مسلمانان دزغم وړ نه وو، ليکن په نړۍ کې دمسلمانانو د رعب او دبدبې له املـه پـه څلور کونجـه نړۍ کې چا مسلمانانو ته په خيرنو سترګو نشواى کتلى، که په کوم هېواد کې به چا مسلمانانو ته تکليف ورساوه، ژر هلته نـو دنـورو سيمو نـه مسلمانو واکمنو لښکرې ليږلې او د مسلمانانو غچ يې اخيسته دمثال په ډول يـو وخت پـه هندوستان کې دمرهټې په نوم يو قوم دمسلمانانو په خلاف دومره قوي بغاوت وکړ ،چې زيات شمير پراخې سيمې اوښارونه يې دمسلمانانو څخه وزګار کړل ، مسلمانان يې دهغونـه وشړل او ډېر زيات يې ووژل، حال داچې دغه مهال په دهلي دمسلمانانو حکومت وو، خو واکمن په عياشيو کې دومره غـرق او مبتلـى وو چـې تـرې هغـې زړورتيـا ، شجاعت او غيرت کومه چې يووخت داسلامي واکمنونښه ګټل کېده کډه کړې وه...

په دغه زمانه کې امام شاه ولى الله رَحِمَهُ اللَّهُ د هندوستان د حالاتو نزاکت درک کړ، او پوشو چې دهندوستان واکمن دمسلمانانو څخه دفاع نشي کولى او که روان حالت هم اسې دوام وکړي نيږدې ده چې د تل لپاره پـه هندوسـتان کـې داسـلام رڼـا مـړه شـي، لـه نيکـه مرغـه پـه افغانسـتان کې دغـه وخت پاچاهې د احمدشاه بابا پـه لاس کې وه، د شاه ولي الله رَحِمَهُ اللَّهُ نظر پـه هغه ولګيد چې يوائې هغه او افغانان کولى شي پـه هندوسـتان کـې د اسـلام او مسـلمانانو ډوبېدونکې کيښتى دنجات ساحل ته بيرون کړي، ددې لپاره يې هغـه تـه يـو تفصيلي خط وليکه ، په هغه خط کې دهندوستان دمسلمانانو بدحالت وليکه او هم يې دهندوستان د سياسي، پوځي ، جغرافيوي اهميت ترڅنګ دهند مالي منابع او محاصل ورته په ليک کې يـو، يـو يـاد کړل او بيـا يـې ورتـه درسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ذات مبارک پـه شـفيع ګرځولـو سره بلنـه ورکړه چې دهندوستاني مسـلمانانو دنجات پـه موخـه هندوسـتان تـه ورشـي، احمدشاه بابـا هـم دخط درسيدو او لوستو وروسته دځنډ پرته هندوستان تـه لاړ او دپـاني پت پـه ميـدان کـې يـې مرهټې لښکرو ته هغه تاريخي شکست ورکړ چې له املـه يې ترننه بيا مرهټې قوم سرپورته نکړاى شو ، په هندوستان او ټوله جنوبي ايشيا کې دمسلمانانو خـلاف سازشـونه ناکـام شـول پـه همـدې توګـه داراکـان مسـلمانان پـه شـاوخوا کې دمسـلمانانو دقوت او ځواک په ډاډ تکيا وو او په اراکـان کـې يې د اسلامي اقدارو اوشعايرو نه ننګه او دفـاع کوله

کلـه چې هندوسـتان برتـانيې قبضـه کـړ، ترڅنګ يـې اراکـان او برمـا هـم قبضـه کړه، پـه اراکان کې دمسلمانانو حکومت يې رنګ او تر برما پورې يې وتړاه، څو چې انګريزان پـه هندو ستان او برما قابض وو ، اراکان دبرما ديو ايالت حيثيت لاره، پـه ۱۹۳۸ زکې برتانيه دبرما څخه

ووتـه دواک چـارې بودايانو تـه پـه لاس ورغلـې، داراکان مسلمانانو غوښتل ځانو تـه جلا دولت جوړکړي خـو برتـانيې دهغـوی داغوښتنه اونـه منلـه، بيـا داراکـان مسـلمانانو هڅه وکـړه څـو اراکـان دپاکسـتان سـره ضـم کـړي لـيکن د پاکسـتاني رهبرانـو او مشـرانو دنـه پـاملرنې پـه وجه دهغوی دا ارزو هم پوره نشوه او د تير په څېر دبرما بودايانو ته پاتـه شـول، بودايـان لـه لـومړي سره پـه مسـلمانانو بدګومانـه وو چې مسـلمانان بـه يـو وخـت نـه يـو وخـت داراکـان جـلا کولـو تحريک شروع کوي ، ددې وهم او ډار له املـه يـې داراکـان پـه مسـلمانانو ډول ډول بنديزونـه اوقيودات لګولي ، هغوی نشي کولی په ازادانه توګه بيرون ته سفرونه وکړي لـه بيـرون څخـه هم نور مسلمانان ، علماء او د تبليغي جماعت خلک نشي کولی اراکان ته ورشي په دې توګه دنورې اسلامي نړۍ او اراکـاني مسـلمانانو تـرمنځ يـې دارتباط ټولې ممکنه لارې ټرلې ، همدا راز په ميـډيا يـې هـم کلـک بنـديزونـه لګـولي هـيڅ ژورنالسـت يـا خبريـال اراکـان تـه نشـي تلی څـو بيـرون تـه هغـه ظلمونـه چې دبرمـا دپـوځ لخـوا دمسـلمانانو خـلاف کېږي انعکـاس اونـه مـومي لنډه داچې داراکان مسلمانان دبرما پوځ له لوري پـه کلابندۍ کې ژوند تيروي هيڅ ازادي نلري لـه ټولو بشري او انساني حقوقو بې برخې او محروم کړل شوي دي بلکې پرلپسې بودايـان او دبرمـا حکومت وقفه، په وقفه اراکان کې دمسلمانانو نسل وژنې او په سياسي او اقتصادي لحاظ يـې ترقي کولـو تـه نـه پريږدي، هر کلـه چې ووينـي دمسـلمانانو لاسـوته پيسـې ورغلـې يـا دمسـلمانانو کاروبـار وغځيـد او بودايـان پـه هغـوی يرغـل کـوي دمسـلمانانو مالونـه لوټـوي کورونـه يـې ورانـوي حتـی تـردي مسـلمانان نـه پريږدي چې پاخه کورونه جوړ کړي بلکې هغوی اړباسي چې دلرګيو نه په جوړو کورونو کې ژوند تير کړي، او چې کله دمسلمانانو په کوم کلي يا ښار يرغل وکړي هلته ښځې، ماشومان، لويـان او ځوانان د توپير پرته په شهادت رسوي بسته کلي په اورونو اچولو سره لولپه کـوي شـتمنی او مالونه تري لوټوي

پـه دې وروسـتيو کـې يوځـل بيـا بودايـانو دمسـلمانانو دنسـل وژلـو لپـاره پـه مسـلمانانو د تاريخ تر ټولو درانه ظلمونه او وحشـتونه شروع کړل چې له املـه يـې پـه لکونـو مسـلمانان دخپلـو کليو او کورونو پريښـودو تـه اړشول او د ډېر بد حالت سره مخ شول ، بودايـان پـه ډېره بې دردی سره مسـلمانان پـه شـهادت رسوي پـه تبرونـو او چړو دهغـوی نـه دبـدن غـړي غوڅـوي هـر هغـه وحشت او ظلم چې دهغه په اړه تصور کېږي ،برما کې بودايان يې پـه مسـلمانانو ترسره کـوي چې پـه دې ټولـو کـې دبرمـا پـوځ دوحشـتګرو بودايـانو سره لاس لري او زياتره کلي اوښارونه د پوځيـانو لخوا سـيزل شـوي تـازه دبې بـې سـي خبريـال چې

داراکان څخه لیدنه کړې ، هغه هلته چې کوم څه لیدلې انسانیت دهغو به لیدلو شرمیږي، دبې بې سې خبریال کاږي: دمسلمانانو په ټول وژنه کې دبرما حکومت او پوځ لاس لري بودایان دمسلمانانو کلي سیزي او په کورونو کې شته مالونه او څېزونه لوټوي

او په کلیو کې پاته مسلمانان په ډېر وحشت او بې دردۍ سره په شهادت رسوي، هم یې د مسلمانانو په وړاندې هغه ټولې لارې تړلې په کومو چې مسلمانان دبرما و اراکان څخه بیرون ته دهجرت کولو کوښښ کوي، دبرما پوځ مسلمانان نه پریږدي چې دبرما څخه بنګال ته کډه شي اوبیا په کومو لارو چې روهنګین مسلمانان هجرت ته اړشوي هغه لارې ډېرې خطرناکې او ډول ډول ستونزو او کړاوونو ډکې دي ، په لوی شمیر کې مسلمانان دسمندر څپودځان سره لاهو کړل اوځینې په ډېر بد حالت کې بنګال ته رسیدلي چې هغوی سره دبنګال حکومت ډېره رویه ډېره ظالمانه او نا انساني ده ، تردې پورې چې بنګال حکومت دنورې نړۍ څخه خیریه ټولنو او ادارو ته اجازه نه ورکوي چې هغوی ورشي او هلته دبرما له مهاجرو مسلمانانو سره مرسته وکړې په دې توګه بنګال ته راغلې مسلمان مهاجرین دسختو ستونزو سره مخ دي دلوږې ترڅنګ په ډول، ډول ساري ناروغیو اخته دي ،په داسې حال کې چې داوربښتونو موسم هم دی او پرلپسې بارانونه دوام لري دبرما مسلمانان په بنګال کې دشنه اسمان لاندې بې سرپناه پراته دي

بل پلو ته ټوله اسلامي او غیر اسلامي نړۍ خاموشه ده دبرما مسلمانانو غم خور نشته دملګرو ملتونو نړیواله ټولنه او دحقوق بشر ټولنه چوپه خوله دي که دا سې حال په کوم کفري هېواد یا نامسلمانو راغلی وای ،په ټوله نړۍ کې به ملګرو ملتونو او دحقوق بشر سازمان غوغا پیل کړې وه او دمرستو او کومکونو کاروانونه به هلته ور روان وو، خو دبرما مسلمانانو دپوښتنې څوک نشته

اسلامي هېوادو واکمن هم دسیاسي مصلحتونو ښکار دی هغوی نشي کولی اقلاً دبرما له حکومت دومره او غواړي چې روان ظلمونه ولې کوي؟ او که هغه روان ظلمونه نه بندوي پکار دی ټول یې پرضد پورته شوي یوائي دترکیې دولشمشر رجب طیب اردګان پرته چې هغه دبرما حکومت ننګوي او ورته ګواښونه کوي چې که روان ظلمونه بند نکړي ترکیه به دبرما پرضد دهیڅ ګام پورته کولو نه ډډه اونکړي باقې اسلامي نړۍ دغفلت په خوب ویده ده له سره ځان نه خبروي چې په برما کې څه روان دي ؟ او ولې په دومره بې دردۍ سره بودایان مسلمانان وژني؟

وړې خولې او غټې خبرې

حسن زوی

څو ورځې وړاندې دکابل لاسپوڅې اداري مشراشرف غني په پلازمېنې کابل کې یوې فوځي غونډې ته دوینا پرمهال وویل چې "...مخالفینو (طالبانو)ته خبرداری ورکوم چې تسلیم شئ!که چرې تسلیم نه شوئ نو دافغانستان دکوماندو ځواکونو له لورې به تسلیمی ته اړ ایستل شئ ؛ افغان ملت په بشپړې اجماع دملت ترشا ولاړدی...".

اشرف غني چې دبهرنو غاصبو ځواکونو په شتون کې یو بې واکه او بې اختیاره مشردی ترڅنګ یې کډې وډې خبرې هم دومره مشهورې دي چې دېر خلک یې نورمال انسان نه بولي نوځکه دده څرکندونې چندان دتوجه وړ نه دي خو چې پدې غونډې کې دبهرنو قواوو امریکایې قوماندانې جنرل نکولسن هم موجود و او هغه هم ویل چې دطالبانو دپاره دوه خبرې دي یابه تسلیمېږي یابه دافغانستان دکوماندو ځواکونو له لورې تسلیمی ته اړ ایستل کېږي .

داسلامي امارت هغه مجاهدین چې دامریکا په مشرۍ کې دنړۍ داتومي طاقت لرونکو او دغوره دفاعي ځواک نه برخمنو ۴۸ هېوادونو نه جوړ دانساني تاریخ ترټولو ستر عسکري اتحاد پرضد یې نه یواځې دا چې په کوچني افغانستان کې تر۱۶ کلونو پورې جنګ روان وساتلای شو بلکې دسرونو او وینو په قربانیو یې داستر اتحاد په کوندو هم کړ ،داسلامي امارت دهمدې کلکو ارادو،لوړو عزایمو،ثابت قدمو،فداکارانو مخلصو او دخپل وخت دسترو فاتحو مجاهدینو نه چې داشرف غني په څېر لاسپوڅی مشر او دنیکولسن په څېر ناکام قوماندان اجېرې او غلامې اردو ته دتسلیمی غوښتنه کوي نوراته دعربی ژبې دامقوله رامخې ته شې چې أنف فی الماء واست فی السماء.

په جنګونو کې دافغانانو جرأت او بهادري یوداسې منلی حقیقت دی چې هیڅوک ترې انکار نه شي کولای؛ د افغانانو دهمدې جرأت او شجاعت په مقابل کې دلته هرستر او وړوکي

یرغلګر ماتې خوړلې ده خو زموږ دټولو دا عقیده ده چې دیرغلګرو دشکست لپاره دافغانانو جرأت او شجاعت هسې دسبب حیثیت لري نورهر څه چې شوي دي دالله تعالی په مدد شوي دي ؛ چې دالله تعالی مرسته او مدد نه وي نو چې ټول افغانان راجمع شي دکمزوري دښمن یو فرد ته هم شکست نه شي ورکولای.

دا هم زموږ عقیده ده چې الله تعالی دباطل مدد نه کوي،دالله تعالی مدد یواځې دحق سره ملګری وي او موږ دهمدې عقیدې لاندې ددښمن پرضد جنګېږو؛ دهمدې عقیدې په رنا کې چې موږ دسپېڅلو اهدافو دتحقق او دالله تعالی دحکم دپوره کولو لپاره دجهاد سپېڅلې لار تعقیبوونو الله تعالی راته دهر دښمن په مقابل کې هر وخت فتح هم رانصیب کړي .

لنډه داچې دستروزبرځواکونو په مقابل کې چې سترې سترې فتحې رانصیب شویدي نو داسلام اومسلمانانونه ددفاع اودحق اوصداقت سره دملتیا له امله شوي دي ،نو کوم افغانان چې دباطل سره یوشوي دي اودباطل سره په ملتیا کې یې دحق مقابله کړی وي اودمبارزې ترشایې مذموم اهداف وي نو داسې تش په نامه افغانان هیڅکله هم ندي بریالي شوي.

دډاکټر نجیب ټول فوځ له افغانانو جوړ و،دایو منظم فوځ و؛له څو سیمو پرته یې ټول هېواد تروک لاندې و او دروسانو نه ورته ښې ډېرې وسلې؛ټانکونه او جنګي جازونه ورپاتې وو؛ دروسانو دتلو نه پس دافوځ تر۳ کلونو پورې دمجاهدینو په مقابل کې وجنګېدلو خو چې دا جنګ دباطل لپاره و او ورسره اسماني مدد نه و ملګری نو انجام یې دا و چې دمجاهدینو په مقابل کې یې ماتی وخوړه.

بیا چې دطالبانو داسلامي تحریک په مقابل کې کومه ټلواله جنګېدله دا هم دافغانانو نه جوړ یو اتحاد و او دټېر حکومت نه پاتې تقریباً ټول حنکې وسایل هم ورپاتې وو خو چې جنګ یې دحق په مقابل کې ونو دوئ هم دسخت شکست سره مخامخ شول.

موږ دامنو چې دکابل داداري اوسنی فوځ هم ټول افغانان دي خو دا فوځ دامریکا په لاس جوړ شوی دی او دامریکایې او نورو بهرنو غاصبو ځواکونو سره اوږه په اوږه دهغو مجاهدینو پرضد جنګېږي کوم چې داسلامي نظام دبیا راتللو،دخپل ملت نه ددفاع او دبهرنو غاصبینو نه دخپلې خاورې دازادۍ لپاره خپلې وینې او سرونه قربانوي نو دحق په مقابل کې دباطل سره اوږه په اوږه جنګېدونکی؛دباطل په لاس جوړ شوی؛دکرایې داسې غلام فوځ که څه هم دتش په نامه افغانانو نه جوړ شوی وي داسلامي امارت دمخلصو، حقپالو، ددین،ملت او دغاصبینو نه خپل هېواد دازادۍ لپاره دخپلو سرونو جارونکو مجاهدینو په مقابل کې یې دبري تصور هم نه شي کېدای .

ټول افغانان پدې پوهېږي چې دمجاهدینو په مقابل کې دداسې فوځ شکست یقیني دی.

عام افغانان خو پربږده پخپله دا اجیر فوځ هم دمجاهدینو په مقابل کې په خپل شکست متیقن دی او پدې پوه دي چې مبارزه یې دباطل لپاره ده نو ځکه خو فوځ ته دراغلو ځوانانو اکثریت بېرته له فوځ نه تښتي همدا لامل دی چې په پوره شپارسو کلونو کې دسوونو ملیونو ډالرو لګولو سره سره هم بهرني ځواکونه دفوځ لپاره دمتعین شوي تعداد په پوره کولو ندي توانېدلي.

توله نړۍ چغې وهي چې دطالبانو په مقابل کې غربي اتحاد شکست خوړلی دی ځکه خو ددې اتحاد غړي یودبل پسې دجګړې له ډګره تښتي او له افغانستان نه دخپلو فوځیانو د ویستلو پربکړې کوي.

امریکا چې ددې اتحاد مشري یې په غاړه ده په تول دولت کې یې یو غړی هم داسې نشته چې دافغانستان دجنګ دګټلو امید او تمه ښکاره کړي بلکې تول په کلي ډول ناهیلي دي او نور خو پربږده آن دامریکا ددفاع وزیر هم خپله ماتې منې؛ ځوورځې دمخه یې ښه په روښانو تکو وویل چې دطالبانو پرضد دامریکا روانه ستراتېژي ناکامه ده او پدې ستراتېژۍ له طالبانو جنګ نشي ګټلای او ترمپ ښه په جهر وایي چې دا دامریکا لپاره یوه بې ګټې،ترتولو اوږده او ناکامه جګړه ده.

دا هم مهمه ده چې دافغانستان داسلامي امارت په مشرانو او کشرانو کې دضعف او کمزورۍ کوم تګی هم ندی رامنځته شوی چې اشرف غني یې دطالبانو دشاتګ دیو کمزوري دلیل په توګه وړاندې کړای شي بلکې نړۍ ویني چې ددښمن په مقابل کې دطالبانو جګړه له هرې ورځې نه بلې ته قوت مومي؛ځوانان مو دجهاد صفونو ته داسې ډلې ډلې راروان دي چې جذبول او مسلح کول یې اسلامي امارت ته ګران شوي دي؛ دا مارت دمشرانو او آن د امیرالمؤمنین بچي مو دجګړې په لومړۍ کرښې کې جنګېږي په کامل اخلاص او لوړ احساس ددې ځوانانو دجنګېدو په برکت اوس دهېواد په مختلفو برخو کې زمونږ ستر فتوحات توله نړۍ وینې.

اوس نه پوهېږو چې دافغانستان ذوالحال ولسمشر په کوم دلیل وایي چې طالبان دې تسلیم شي؟!

هو! اوس چې امریکا دکابل اداري نه دخپل حمایت او ورسره دمرستو دجاري ساتلو غږ کړی او ترځنګ یې دځزرو نورو فوځیانو لېږلو خبره کړې اشرف غني به پدې مست وي او همدا به دخپلو تولو رنځونو دوا ګڼي چې همدا دده لوی حماقت دی.

دامریکا حضور او حمایت خو دلته له تېرو ۱۶ کلونو راهیسې موجود دی خو څه یې وکړل؟ او دلته چې امریکا او نورو غربي هېوادونو په سوونو زره فوځیان موجود و هغوي څه توره وکړه چې اوس به یې دځزرو په زیاتولو وکړي؟

زمونږ له هېواد سره
د امریکا د دوستۍ بېلګې!!

خلیل . عزم

په کابل نیوز کې چې د سوپر ټوکانو الوتکو په باب کوم راپور خپور شو، دا له افغانستان سره د امریکا د ناغبړې یوازینۍ ثبوت نه دی.

امریکا چې په دې وروستیو کلونو کې له افغانانو سره کومه جفا کړې که څېړنې پرې وشي کتابونه به پرې ډک شي.

یوازې دا چې افغانستان یې د خپلو لویو موخو لپاره د جګړې په سره تنور بدل کړی دی، یوه ژوندي ولس او د هغو باضمیره زعامت ته د زغملو وړ نه ده.

پر دې سربېره امریکا په افغانستان کې هر څه د یو ځل مصرف په حساب کوي.

د دوی پوځي تاسیسات وګورئ زیاتره یې د کانټینرونو څخه جوړ وو چې د مرکز او پوستې له ټولولو سره یې ټول کړل.

هغه مهمې وسلې یې افغان پوځ ته د سپارلو پر ځای پاکستان ته وسپارلې، کوم رینجر موټرونه یې چې زمونږ پوځ ته ورکړي د تېلو د لګښت او نورو ځانګړتیاو له مخې ډېر په درنه بیه لوېدلي دي. افغانستان ته یې چې کومې الوتکې ورکړې هغه هم په داسې کچه نه دي چې په اردو کې دې پرې حساب وشي، یو وخت استدلال کېدو چې افغانستان لوی پوځ او درنو وسلو ته اړتیا نه لري، ځکه د امریکا او ناټو په څېر لوی ځواکونه یې متحدین دي، دښمن به په ړوند سترګو ورته راونه ګوري خو همدې ناټو او امریکا د ډیورنډ په اوږدو کې خپلې حاکمې پوستې د افغان پوځ پر ځای ګاونډي پوځ ته وسپارلې.

متل دی چې کم عقل یې پر ځان ازموېي هوښیار پر بل، افغانانو باید د امریکا د دوستۍ او خلوص کچه د دوی له نورو متحدینو څخه معلومه کړې وای، رضا شاه چې د خمینۍ انقلابي پیروانو پسې واخیست امریکا په خپل هېواد کې پناه ورنه کړه.

پاکستان د امریکا د ملګرتیا او مرستې په تمه دوه ټوټې شو، دا اوس چې زمونږ چارواکیو له امریکا سره د دوستۍ په نغمو د ولس غوږونه وخوړل ولس مو د واشنګټن د لیونیو جګړه مارانو د درنو وسلو په ټس کې په وینو کې لامبي.

که امریکا له افغانستان سره په ریښتیا دوستي درلودای اواستعماری موخې یې نه لرلای دا به زمونږ د هېواد لپاره یوښه زیری ؤ. د دوستۍ او ښو اړیکو بنسټ د ولس پر ګټو اېښودل شوی وي. افغانان څلورو لسیزو جګړو ډېر وځپل، ویې ځورول او په ماتمونو یې ډوب کړل. د ولس ستر ارمان مو سوله ده، خو امریکا دا دي د خپلو درنو وسلو او بمبارېو لپاره زمونږ هېواد انتخاب کړی دی. دا ډېر بد انتخاب دی چې زمونږ ولس به په درنو ماتمونو واړوي، دریغه په ولس کې دومره شیمه راپیدا شي چې له دې ناورین نه د وتلو لاره وممي.

دا اسلام غزوات او سرلیا

دحدیبې عمره او درضوان بیعت

ابوظهیر

په حدیبه کې رسول الله ﷺ ته خبرراغی چې په مکه کې حضرت عثمان رضی الله عنه شهید کړای شوی ، په دې سره زیات غمجن شو او وې فرمایل:

ترڅو چې دعثمان غچ مې نه وي اخستی له دې ځایه به ولاړنشم

بیا هم هلته دکیکر دیوې ونې لاندې چې سیوري ته یې ناست و، بیعت واخیست .

څو مې په تن کې ساه وې له کافرانو سره به جهاد اوقتال کوم، مړبه شم خو تیښته به ونکړم!

ترټولو لومړی ابوسنان اسدي بیعت وکړ، په معجم طبراني کې دعبد الله بن عمر نه روایت دی چې کله رسول الله ﷺ خلک بیعت کولو ته او بلل،ترټولو اول ابوسنا رضی الله عنه حاضر شو، او عرض یې وکړ:

اې دالله رسوله! دبیعت لپاره لاس راکړه !

رسول الله ﷺ وفرمایل: په څه بیعت کوي؟ابوسنان وویل: په هغه څه چې زما زړه کې دي! رسول الله ﷺ وفرمایل:ستا زړه کې څه دي؟ ابوسنان وویل:

یا رسول الله ﷺ! زما په زړه کې دا دي: چې ترهغه وخته توره وچلوم څو تاته الله جَلَّ جَلَالُهُ بری نصیب کړي او یا زه په دې لاره کې ووژل شم!

رسول الله ﷺ له هغه سره بیعت وکړ او بیا په همدې باندې نوروخلکو بیعتونه وکړل.

په صحیح مسلم کې دي چې سلمة بن اکوع درې ځله بیعت وکړ، په اول کې، منځ کې او اخر کې، کله چې ټول دبیعت کولو نه وزګار شول ،ر رسول الله ﷺ خپل کین لاس پخپل ښي لاس کیښود او وې فرمایل:

دا دعثمان رضی الله عنه لخوا بیعت دی (رواه البخاري)

ښی لاس پخپله درسول الله ﷺ لخوا و؛ اوکین

لاس يـــې دحضرت عـــثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لخوا؛ حضرت عـثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددې واقعې پـه يـادولو به فرمايل:

درســـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کينې لاس زما دخپل ښې لاس نه زيـات غـوره و (زرقـاني ۲ټـوک ۲۰۶-۲۰۸)

ديتـــه رضـــوان بيعـــت وايـي،د کـوم يادونـه چـې الله تعالى په سوره فتح کې کړې:

لَقَد رَضِيَ اللهُ عَنِ المُؤمنين اذ يُبَايعُونَکَ تَحتَ الشَجَرة فَعَلِمَ مَـافي قُلُـوبهم فَـأنزَلَ السَـكينةَ عَلَـيهم وَاَثَـابَهُم فَتحـاً قَريبـا وَمَغَـانمَ كَثيـرَةً يَأخُـذُونَها وَكَـان الله عَزيزاً حَكيمَا

ژ: پـه تحقيـق الله راضي شودايمانوالونه هغه وخت چې هغوى ستا په لاس دونې لانـدې بيعت کاوه، دهغـوى پـه زړونـو کـې دالله او دهغـه درسـول سره څومره مينه او اخلاص دى هغـه الله تعـالى تـه ښـه معلـوم دى نوپس الله تعالى په هغوى خپلـه خاصه سکينه او طمانيت نازل کړ او په انعام کې بـه ورتـه ډېر ژر فتح په نصيب کـړي او پـه دې عـلاوه پريمانـه غنيمتونـه بـه ترلاسـه کـړي او الله تعـالى غالب او حکمت والا دى

خو وروسته معلومـه شـوه چـې دعـثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوژلـو خبر غلـط و، قـريش چـې کلـه ددغـه بيعـت نـه خـبر شـول نومرعوب او وډار شـول دسـولې لپاره يې دپيغامونو ليږلـو لـړى پيل کـړه (فـتح البـاري ۷ټـوک ۳۴۵مخ)

د خزاعـه پـه نـوم يـوې قبيلې اګرکه تردغه مهاله اسلام نه و قبول کړى خـو تـل درسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حليفـــــه او ملګرې وه، دمکـې مشرکانو بـه چـــې کلـــه درســـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پـــه خـــلاف سازشونه جوړول،له هغـو نـه بـه يې رسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تـه خـبر ورکـاوه، دهمـدې قبيلـې سردار بـديل بـن ورقـاء دخپلـې قبيلـې لـه څوتنـو مشرانـو سره يوخاى پـه حديبيـه کـې رسـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تـه راغـــى او عرض يې وکړ:

قريشو دحديبې په لمنـو او څنډو کې داوبو په لويـو، لويـو چينـو بانـدې سـتا سره دجنـګ لپاره يولوى لښکر راټـول کـړى ، څو تا مکې ته ستا دننوتـو مخـه بنده کړې اوله خانو سره يې پې لرونکـې او ښـې هـم راوسـتې (يعنـې داوړدې مـودې لپـاره د مقابلې هوډ لري چـې هـم دلتـه بـه يـې خـورې اوڅکـې څـو هروخت دمقـابلې لپـاره چمتـو وي)

رســـول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

مـونږ دهيچـا سره دجنـګ لپـاره نـه يـو راغـلي، يـواځې دعمرې کولـو لپـاره راغـلي يـو، جګړې قـريش کمـزورې کـړي، که هغوى غـواړي نـو زه دهغـوى لپاره دصلحې يوه موده ټاکم چې په هغه کې به يوپه بـل بانـدې غرض نکوو او ماته دي نورعرب پريـږدي کـه د الله جَلَّ جَلَالُهُ پـه فضل سره ماتـه پـه هغـو غلبـه

نصیب شوه نوبیا دوی ته پکاړده چې په دې دین کې داخل شي او هم په دې توګه به ورته دارام لپاره څو ورځې په لاس ورشي، که بالفرض عرب په ما غالب شول، نو دقریشو ارزو پوره شوه، خو زه تاسو ته وایم چې الله جَلَّجَلَالُهُ به خامخا خپل دین غالب کوي او ددي دین دغلبې ، ظهور ، نصرت او فتح کومه وعده چې الله جَلَّجَلَالُهُ کړې هغه به ضرور پوره کوي اوکه هغوی داخبره نه مني نو سوګند په هغه ذات دچا په قبضه کې چې زما ساه ده زه به خامخا د دوی سره جهاد او قتال کوم تردې پورې چې زماسر هم دتن څخه جلا شي.

بدیل درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پورته شو او قریشوته ورغی هغوی ته یې وویل:

ما دهغه سړي نه یوه خبره واوریده او راغلم که تاسو غواړئ هغه به تاسوته وړاندې کړم، احمقانو او ناپوهانو خلکو وو یل: مونږ تهد هغه دخبرو اړتیا نشته مونږ یې یوه خبره هم نه او رو! خو کوم چې په هغوی کې درایې خاوندان وو او هوښیاران ول هغوی ویل : ښه ده و وایه:

بدیل وویل:

تاسو بیړه کوونکي یاست! محمد(صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) دجګړې لپاره ندی راغلی بلکې دعمرې لپاره راغلی دی او غواړي تاسو سره صلحه وکړي.

قریشو وویل: هوا! بیشکه هغه دجګړې په نیت ندی راغلی خو مکې ته نشي- ننوتی عروة بن مسعود پورته شو وې ویل:

قومه! ایا زه ستا سو لپاره دپلار او تاسو زما لپاره داولاد په مرتبه کې نه یاست؟

خلکو ویل: بیشکه ولې نه!

عروه وویل:

دغه سړي (یعنې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ستاسو دخیر خبره کړې زما په اند داضررو منل پکاردي او ماته اجازه راکړئ چې زه محمد صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته ورشم او په دې اړه ورسره خبرې وکړم.

خلکو ویل: ښه ده ورشه...

عروه درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خدمت کې حاضر شو، رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته هم هغه څه وویل،چې بدیل ته یې ویلي و.

عروه ویل:

اې محمده!تا هم اوریدلي چې چا خپل قوم هلاک او تباه کړی علاوه ددینه که دوهم صورت پیښ شو (یعنې قریش غالب شول) نو زه وینم تاسره دمختلفو قومونو خلک ملګري دي دوی به تاپریږدي اودرنه ا وبه تښتي.

ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې درسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترشا ناست و، غروه یې او کانځه او وې فرمایل: ایا مونږ به رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پریږدو او تښتوبه؟

عروه پوښتنه وکړه داڅوک دی خلکو ویل: ابوبکر دی، عروه وویل:

په خدای سوګند کـه پـه ما سـتا احسـان نـه وای، دکـوم چې تر اوسه ما تاتـه بدلـه نـده درکـړې خامخابـه مـې خـواب درکړی و.

بیـــا یـــې درســـول الله ﷺ سره خـبرې شروع کړې، هغـه بـه چـې کلـه خـبره کولـه درسـول الله ﷺ ډیـرې تـه بـه یـې لاس وروړو؛ مغیره بـن شـعبه (دعـروه وراره) چې مسلح توره په لاس درسـول الله ﷺ ترشـاه ولاړ و، ورتـه درسـول الله ﷺ په وړاندې دخپل تـره داجرئـت خوښ نشو ، سملاسي یـې عـروه ته وویل: خپل لاس درسـول الله ﷺ د ډیـرې څخـه در ونیسـه؛ دیـو مشـرک لپـاره هیڅکلـه پکـار نـدي چـې هغـه رسول الله ﷺ تـه لاس وروړي.

داچې مغیره په زغرو کـې پټ و، عروه اونه پیژانده او پـه غوسه یې لـه خلکـو او پوښـتل داڅوک دی؟

رســـول الله ﷺ اوفرمایل: سـتا وراره مغیـره بـن شعبه دی

اوس عـروه چـې مغیـره او پیژانده وې ویل: اې غـداره، مـا سـتا دغـداری او فتنـې تـاوان ندی اداء کړی؟

مغیره چې لا مسـلمان نـه و، دڅوتنو ملګـرو سره پـه سـفر کـې دمصر ـ دمقـوقس پاچـا تـه ورغلل، پاچا دمغیره بـه نسـبت نورو ملګروتـه زیـات انعامـات ورکـړل ، لـه املـه یـې مغیـره سخت خفه شـو اوپـه لاره کـې یوځای کې تـم شـول ، ښـه ډېـر شراب یـې او څکـل او کلـک ویده شول ، مغیره دموقع نـه پـه استفاده هغوی ټول قتل کـړل او مالونه یې واخیسـتل وتښـتیده راغـی درسـول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او پـه اسـلام مشرف شـو، عـروه هغـو ټولو وژل شویو کسانوته دیتونـه ورکړل او کیسـه یـې رفـع دفـع کړه

ددې وروسته عروه درسـول الله ﷺ سره دصـحابه وو دزیـاتې مینـې، خلـوص، احـترام او درنـاوي داسـې راښـکونکی او عجیـب منظـر ولیـد کـوم چـې هغـه ددینـه وړاندې نه و لیدلی،هغـه داچـې هرکله به رسـول الله کـوم حکـم کاوه، هر سړي به غوښـتل چـې دنورو څخه وړاندې هغه دا حکـم سرته ورسوي، کله چـې درسـول الله دخولې مبـارکې نـه لاړې یـا بلغـم وزي ، هغـه پـه زمکـه غورځیدوتـه نـه رسي لاس پـه لاس اخستل کېږي او په مخونـو یې موښل کېږي، کله چې رسول الله ﷺ اودس کـــوي درســـول الله ﷺ د اوداسه دمستعملو اوبو هـم ورتـه حال وي، نیـږدې چـې لـه املـه یې پخپل منځ کې سره ونښلي، درسول الله ﷺ دبـدن هیڅ یو ویښته پریوتـو تـه نـه

پريږدي، فوراً هغه پورته کړي؛ کله چې رسول الله ﷺ غږيږي ، يوه چوپتيا خوره شي،گواکي هرسړی له سره ترپښو غوږ نيولی،مجال شته چې دچا نظر پورته شوی وای.

گواکي دا د حال په ژبه دعروه هغې بدگومانی ته خواب و، چې درسول الله ﷺ دمخلصو ملگرو په اړه يې درلوده چې: که قريش غالب شول داخلک به تا پريږدي او وبه تښتي! د اخلاص، محبت، احترام، او درناوي څخه د دې ډک منظر ليدل دعروه ټولو بدگومانيو ته کافي او شافي خواب شو، چې څوک ديوچا سره دومره مينه، محبت، اخلاص ولري هغه ته په شاکولو سره تښتيدای شي.

عروه چې کله بيرته ستون شو قريشو ته يې وويل:

اې قومه! والله ما دقيصر، کسری، نجاشي اولويو لويو پاچايانو درباروته ليدلي خو په خدای سو گند داحترام، عقيدت، اخلاص ، درناوي دومره عجيب او حير انونکی منظر مې ندی ليدلی.

نومیالی سيرت ليکونکی او محدث مولانا محمد اداريس کاندهلوي رح ليکي: دامنظر نه درسول الله ﷺ څخه وړاندې چاليدلی او نه وروسته يې ليدل ممکن دي ، رسول الله ﷺ خاتم الانبياء و، دعقيدت او محبت دا حيرانوونکی منظر هم په رسول الله ﷺ باندې پای ته رسيدلی.

په يو بل روايت کې دي چې ما ډير پاچايان ليدلي خو دمحمد ﷺ پشان پاچا مې نه وليدلی (رواه ابن شيبه مرسلا) (زرقاني ۲ټوک ۱۹۲مخ)

عروه که څه هم په ښکاره او صفا توگه اونه ويل چې رسول الله ﷺ دالله ﷻ پيغمبر دی خو اشارتاً يې وويل چې داسې شان دپاچايانو نه وي بلکې دخدای تعالی دپيغمبرانو وي .

دعروه ددې خبرو په اوريدو دحبشو سردار حليس بن علقمه کناني وويل:

ماته اجازه راکړئ چې زه رسول الله ﷺ ته ورشم، رسول الله ﷺ حليس دلري څخه وليده وې فرمايل:

دقربانيو څاروي په لاره کې ودروئ داشخص دهغو خلکوڅخه دی چې هغوی دقربانيو څارويو تعظيم کوي

حليس چې دقربانی اوښان ولاړل وليدل نو دلارې څخه بيرته ستون شو او بيرته قريشو ته ورغی هغوی ته يې وويل:

دکعبې په رب سوگند داخلک فقط دعمرې لپاره راغلې داخلک هيڅکله بيت الله ته دتلوڅخه نشئ گرځولی، قريشو ويل : کينه ته خنگلي انسان په څه پوهيږي....؟

نوربيا....

په برما کې ستر بشري ناورين

او دنړۍ مجرمانه چوپتيا

■ حسن مومند

په امريکا يا دلويديځ په کوم بل هېواد کې چې دکوم مسلمان ځوان په لاس وسله وال يا بمي بريد رامنځته او پکې چاته مرګ ژوبله ورسېږي نو دلويديځ دعامو خلکو ترڅنګ پوهان هم دمکر نه په ډک انداز پوښتي چې مور نه پوهېږو چې هغه مسلمان ځوانان چې دلته زېږېدلي،راستر شوي او زمور دټولنې برخه ګرځېدلی ده ولې زمور سره نفرت کوي؟ ولې پکې دتشدد عنصر راپيدا او وده مومي؟ولې نور انسانان وژني او خپل ژوند هم له لاسه ورکوي؟

په زړه پورې خو لا داده چې دافغانستان اوعراق په څېر په اشغال شويو هېوادونوکې د دوئ پر ضد د جنګېدونکو مجاهدينو ځوانانو په اړه هم دوئ دا پوښتنه مطرح کوي؛ پدې اړه کانفرانسونه دائروي ؛ ګردي مېزونه جوړوي او په چاپې خپرونو کې مقالې خپروي .

دلويديځوالو ولسونو او پوهانو حال ډېر د تأسف وړ دی؛ سره له دې چې دوئ په هرڅه پوه دي خو په تکلف يې ځانونه ناپوه اچولي دي او دحقايقو دمسخ کولو ناکام کوښښونه کوي . د امريکا په مشرۍ کې د لويديځوال اتحاد له لورې داسلام او مسلمانانو پر ضد د صليبي جنګ د اعلان نه پس چې دې اتحاد ګڼ اسلامي هېوادونه قبضه يا يې پکې دداخلي شور شو نو دراپيداکولو له لارې دولتونه رنګ او داسلامي نړۍ پدې ګڼو هېوادونو کې يې په مليونونو بې ګناه انسانان په ډېرې بې رحمۍ او بې درديۍ ووژل او ددې هېوادونو ودان ښارونه او کلي يې لوټې لوټې کړل که مور داعلان شوي صليبي جنګ په نتيجه کې دمسلمانانو پرضد دامريکا او نور لويديځ دا ټول وحشتونه شاته کړو او يواځې د برما دبې وسلې، بې وسيلې او بې وسو مسلمانانو پرضد دبودايې کافرانو اوسنو ترسره شويو ظلمونو او بې ساري وحشتونو ته پام وکړو لويديځوالو ته پکې ددې پوښتنو جواب د لمر

په څېر روښانه دی چې مسلمانو ځوانانو کې ولې تشدد زیاتېږي؟ولې دلویدیځوالو سره نفرت کوي؟ولې دوسله والې مبارزې ډګر ته راووځي؟ او ولې نور وژني او خپل سر قربانوي؟

په برما کې پر مظلومو مسلمانانو دروان وحشت لپاره هیڅ پلمه هم وجود نه لري؛ بس دبودایې مذهبې مشرانو په حکم ولسي بودایان او بودایې فوځیان او پولیس په ګډه دبې وسلې، تش لاسو مسلمانانو پرسیمو یرغلونه کوي؛ دنر، ښځې، ځوان،بوډا او کوچني دامتیاز پرته هرمسلمان چې پرمخه ورځي وژني یې؛کلې محاصره کوي او ټول کلي ته په یوځای اور اچوي اوپکې راګېر شوي ټول مسلمانان پکې ژوندي سوزوي؛ دکلیونه دتېښتې په حالت کې چې کوم خلک ژوندي نیول کېږي هغوئ باندې تېل پاشل کېږي او سوځول کېږي؛وحشي- بودایان دمیندو دغېږو نه کوچنیان را اخلي سرونه ترې پرې کوي او اور ته یې وراچوي او پرمېرمنو دخپلو بچو ترمخه جنسي تېري کوي او بیا په ډېرې بې رحمۍ په اجتماعي ډول مور اوبچیان ټول وژني.

دلته لارې کوڅې او پټې دمسلمانانو له جسدونو ډک دي دچا په بدن کې چې دغوښې زړه وي دمسلمانانو دمظلومیت اوسني حالت ته نه شي ټینګېدای هر لور ته سوځېدلي کلي او پکې دمسلمانانو لولپه شوي جسدونه دي،لارې کوڅې، دلویانو، کوچنیانو او مېرمنو دجسدونو نه ډک دي خو څوک یې ددفنولو نشته؛نه کفن شته،نه جنازه شته؛ نه په اسلامي طریقې دفن او نه هم قبر.

دلته دوینو او اوښکو یو سمندر دی؛دمظلومو مسلمانانو چغې او آهونه دي چې تراسمانه رسېږي خو دا هیڅ هم په نړۍ کې دامن ټېکدارانو امریکا، اروپایې اتحاد او دملګرو ملتونو اداري ته په سترګو نه ښکاري او نه ددې مظلومو انسانانو پرضد دروان وحشت دودرولو لپاره دیادولو وړ اقدامات کوي.

په زړه پورې خو داده چې دملګرو ملتونو له لورې دخوراکي توکیو او دوا استول شوې لارې هم دبرما فوځ ودرولي دي او دوړاندې تلو اجازه نه ورکوي همدا راز دنیویارک ټایمز، ګارډین،انډې پنډنټ او بي بي سي په څېر معتبرې غربي رسنۍ هم اعتراف کوي چې دآنګ سان سوچي په مشرۍ کې دبرما دولت یو جورنالست ته هم اجازه نه ورکوي چې اراکان ته ورشي او داصل حقایقو نه نړۍ خبره کړي.

که چرته دنړۍ په کوم اسلامي هېواد کې یواځې دیوې نامسلمانې کورنۍ پرضد دمسلمانانو له لورې دظلم کومه کوچنۍ پېښه شوې رامنځته شوی او بیا دحالاتو نه دنړۍ دخبرولو په موخه دورتلونکو جورنالستانو مخه ددولت له لورې نیول شوی وای دامریکا ،غربي اتحاد،ناټو، اروپایې اتحادبه څه عکس العمل وای؟

هرځوک پوهېږي چې اقتصادي بندیزونه به وای؛ دبانکي حسابونو کنګل کېدل به وای؛په ډېرو شدیدو ټکو به غندنې وای؛دبشر دحقوقو دنړیوالو ادارو له لورې به ددې هېواد پرضد دشدید عکس العمل

ښکاره کولو غوښتنې وای او په نتیجه کې به دملګرو ملتونو دامنیت شوری له لورې پدې هېواد حمله وای خو چې په برما کې دوحشي- بودایې ولس او بودایې فوځ له لورې دمسلمانانو پرضد ددې دومره ستر وحشت مقابل هیڅ هم نشته،نه دبرما سره په نړۍ کې څوک سوداګریزي راکړې ورکړې بندوي؛نه وربانديې اقتصادي بندیزونه لګول کېږي،نه ورسره دیپلوماتیکي اړیکې پرې کولی شي؛ نه دظالم دولت دظلم مخنیوی کېږي؛نه دخپل ولس په قتل عام کې دککړ دولت له منځه وړل اړین بلل کېږي او نه هم ناټو یا دملګرو ملتونو دامنیت شوری دداسې دولت پرضد یوکوچنی اقدام اړین بولي.

په زړه پورې داده چې هماغه کفري نړۍ چې دنړۍ په کوم ګوډ کې که دکوم مسلمان په لاس دشخصي خصومت یا رواني تکلیف له امله کومه ناوړه پېښه رامنځته شي نو ټوله نړۍ یې په یوه خوله داسلامي تروریزم پېښه بولي او ټول په اتفاق دداسې پېښې عاملینو ته دسزا ورکولو غوښتنه کوي خو دلته چې بودایې مذهبي مشران خپلو عامو بودایې پېروانو ته دمسلمانانو دقتل عام حکم کوي؛دا خپله مذهبي فریضه ګڼي او په نتیجه کې یې دفوځ او عامو بودایانو دشریک پلان له مخې پدې هېواد کې دمسلمانانو دنسل ختمولو په موخه دمسلمانانوقتل عام کېږي؛ غونډ غونډ کلي یې سوځوي؛ دزرونو مېرمنو اجتماعي بې عفتي کېږي او په سونو زره انسانان دخپلو کورونو پرېښودوته اړایستل کېږي نو په نړۍ کې هیڅوک دې ته ندي تیار چې دې ته بودایې تروریزم ووایې او وحشي بودایان بودایې تروریستان وګڼي.

دنړیوالو رسنیو منافقت هم ټولې نړۍ ولید چې په امریکا کې دطوفانونو سحنې او ددولت له لورې دساتنې تدابیر په ځومره اهتمام ښایې؛ځومره زیات وخت ورکوي خو دبرما دې بشرې ناورین ته هیڅ توجو نه کوي.

دمسلمانانو د مظلومیت دسحنو یوه سلنه هم نه ښکاره کوي او نه دبودایانو دوحشت عشرعشیر نړیوالو ته رامخې ته کوي؛نه پدې اړه ګردي مېزونه جوړوي؛نه دنړۍ حاکمان دې ته هڅوي چې ددې ستر وحشت دودرولو لپاره جدي اقدامات وکړي او نه هم دنړۍ ولسونه دې ته هڅوي چې ددې وحشت پرضد اواز پورته کړي.

دبرما دمظلومو مسلمانانو پرضد دروان وحشت په اړه پراسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو چوپتیا بیا ترټولو زیاته دردونکې او زورونکې ده یواځې دطیب اردګان ترکیه ده چې ددې مظلومو انسانانو په هکله یې غږ پورته کړیدی؛ ورسره دخواخوږۍ ښکاره کولو په موخه طیب اردګان خپله مېرمن او دباندنیو چارو وزیر تربنګله دیش ورواستول او هوړې یې په کمپونو کې دبرما نه دتازه راغلو مهاجرینو سره وکتل.

همدا ترکیه ده چې دملګرو ملتونو په اداره کې یې هم په دې اړه غږ پورته کړی او هڅې یې کړیدي چې دنړیوالو پاملرنه دې لورته راواړوي او دا موضوع چې څرنګه ستره ده همداسې یې نړیوال ستره وګڼي.

طیب اردګان په بنګله دیش غږ کړیدی چې دبرما نه راغلي مسلمانان دې ببرته برماته نه شړي؛په دوئ راتلونکي ټول مصارف به ترکیه ورکړي.

له طیب اردګان پرته داسلامي نړۍ بل یومشر هم ددې مظلومو مسلمانانو په حق کې څنګه چې لازمه وه هغسې غږ ندی پورته کړی او نه یې ددې خورابدحالت نه ددې مظلومو مسمانانو د راویستلو مناسبې هڅې کړیدي؛ اسلامي کانفرانس بیخي دشرم نه ډکه دچوپتیا روژه نیولې ده او د سعودي په مشرۍ کې هغه عربي هېوادونه چې دکوچني تخلف له امله یې دقطر پرضد خورا سخت موقف خپل کړ اوس ددې دومره وحشت په مقابل کې بیخي چپه خوله دي.

خو لنډه دا چې عام مسلمانان د نړۍ دنامسلمانو ترڅنګ د مسلمانو واکمنانو نه هم سخت ناهیلي دي او یقین ته یې پریوتې ده چې په نړۍ کې ډېر سخت منافقت او لویه بې انصافي روانه ده.

مسلمان ځوانان چې دنړۍ دا ستره بې انصافي او لوی منافقت وینې نویقین ته یې پریوځي چې دبشر د حقوقو، بشریت ته د احترام او دظالم نه د مظلومو خلکو دساتنې ټول اصول،قواعد او خبرې یواځې دنامسلمانو لپاره دي، مسلمانانو ته دنړۍ ستر طاقتونه نه یواځې دا چې دانسانانو په نظر نه ګوري بلکې دځمکې له مخه یې ختمول ضروري ګڼي چې ښه ډپلان او پروګرام له مخې دبرما په څېر اقدامات کېږي نو ځکه مسلمان ځوانان ټوپک ته لاس کوي او دجهاد پرته په بل هیڅ شي کې خپل نجات نه مومي.

که مسلمان ځوانان جهاد ونکړي بل به څه وکړي؟ دمسلمانانو وحشي قاتلین په بلې کومې ژبې پوهېږي؟او دمسلمانانو لپاره له جهاد پرته بل کوم نجات ورکونکی شی شته چې ورسره خپلې هیلې وتړي؟

مسلمان ځوانان چې دخپلو سرونو اووینو جارولو؛ دخپلو بچو یتیم توب، دخپلو مېرمنو کونډتوب ته تیارېږي دا څه اسان کارندی او نه ددوئ طبعي خواهش دی بلکې دادسخت مجبوریت هغه حالت دی چې له دې بله هیڅ لار مسلمانانو ته نده ورپاتې.

که دملګرو ملتونو اداري او دنړۍ سترو زبرځواکونو دا بې انصافي او منافقت ختم نکړ نو دمسلمانانو له لورې په ډېر سخت او ستر غبرګون رامخې ته شي چې په نتیجه کې به یې په نړۍ کې ډېره ستره خون ریزي رامنځته شي بیا به تش حسرت او افسوس وي خو ګټه به نه رسوي.

د سپتمبر د یولسمې په انتقام کې

د صلیبي جګړې پایلې

معین احمد (خروتي)

د سپتمبر د خونړۍ پیښې تر پینځیدو تقریبا څلور میاشتې وروسته د ۲۰۰۱ کال د دسمبر د میاشتې په شلمه نیټه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د خپل ۱۳۸۶ پریکړه لیک له مخې د ملګرو ملتونو په تشکیل کې د ایساف ترنامه لاندې په افغانستان کې دسوله ساتونکي ځواک تشکیل منظور کړ.

دا پوځي ایتلاف د امریکایانو لخوا ظاهرا د سپتمبر د پیښې له عاملینو څخه د غچ اخیستلو په نیت جوړ شو.

په یاد پوځي تشکیل کې افغانستان ته له په اصطلاح تروریزم سره د مبارزې ترنامه لاندې د بهرنیوځواکونو راتګ پیل شو او تر کال ۲۰۰۶ پورې ۱۵۰۰۰۰ بهرني یرغلګر ځواکونه په کابل سربیره د افغانستان په مختلفو ولایتونوکې ځای پرځای شول.

د ۲۰۱۴ کال په پای کې امریکایانو او د یاد پوځي ایتلاف غړیو خپل ډیری پوځیان له افغانستانه بیرته له کومې هیڅ ډول لاسته راوړنې په شاکړل، چې امریکایي پوځي چارواکو داکار په پوځي لحاظ په افغانستان کې د په اصطلاح له تروریزم سره د پیل کړې جګړې ښکاره ناکامي وبلله او پردې خبره یې ټینګار وکړ چې باید مونږ د جګړې په زور په افغانستان کې خپلې موخې تر لاسه کړو .

خو د امریکایي پوځي جنرالانو د پوځي زور آزموینې با وجود د تیرو ۱۶ کلونو په بهیر کې په افغانستان کې د بهرنیو ځواکونو له جملې څخه نیږدې ۴۰۰۰ پوځیان وژل شوي ، په سلګونو زره نور ژوبل شوي ، او د هغوی په تمویل باندې په ترلیونونو ډالره لګښت راغلی او د افغانستان سیاسي اوامنیتي وضعیت دې کچې ته رسیدلی چې نن همدغه مجهز راغلي امریکایان په خپلو

خونـدي مرکزونـوکې آرام نـه لـري او پـه اداري لحـاظ پـه افغانسـتان په تيـره کابـل ښـار کې د امريکـايي ځواکونـو تـر سيوري لاندې متعدد موازي حکومتونه حکمراني کوي.

امريکايانو چې د سپتمبر د پيښې د غچ اخيستنې جګړې پيل يې له افغانستانه وکړ دغه جګړه يې په عـين نامـه عـراق ،صومال ,يمن او د نړۍ نورو سيمو ته هم نقل کړه .

خـو د دې پـه ځـای چې پـه تيـرو ۱۶ کلونـو کـې د دې انتقـامي جګـړې پـه تـرخ کـې د دوي د ادعـاء پـر اسـاس پـه افغانستان او نړۍ کې سـوله تـأمين کـړې وای بـرعکس يـې د خپلو ناوړو کړنو او ناسمو سياستونو له امله د افغانسـتان پـه شمول ټوله نړۍ نا امنه او له مشکلاتو سره مخ کړه.

پـه افغانسـتان کـې د پـه اصـطلاح نړيـوال تروريـزم پـرخلاف جنګيـدونکي بهرنـي پوځيـان د افغـان ولـس له دفاعي مقاومـت سره مـخ او ناکـام شـول چې اوس يـې د سپتمبر د پيښې غچ اخيستنه لـه يـاده وتلی او پـه افغانسـتان کې د نورو پلمو په رامنځته کولو سره د جګړې جاري سـاتلو لپاره نور پلانونه او جنګي ستراتيژۍ اعلان کړې دي.

هغه ځوک چې امريکايانو د سپتمبر د پيښې عاملين بلل هغـوی يـوهم نـه پـه افغانسـتان کـې ګرفتـار او نـه ومونـدل شـو، امريکايـانو د هغـوي د تعقيـب پـه پلمـه حتـی د مسـلمانونو پـه ترټولـو مقدسـو ځـايونو(حرمينوکې) هم بيدفاع مسلمانان شـهيدان ، بنديان او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دامريکا په سري بندي خانوکې تری تم شول .

دسـپتمبر خـونړۍ پيښـه د نـړۍ پـه کچـه هغـه لاينحلـه معمـا ده چې پـه تيـرو ۱۶ کلونـو کـې د هغې اصـلي عـاملين مشخص نـه کړای شـول خـو د هغوی پـه لټـون کـې امريکايـانو ټولـه اسـلامي نـړۍ تـر خپـل بالقوه اشغال لاندې راوسـتله .

خـو پـه مقابـل کـې دا هـم وشول چې اوس پـه ټولـه نـړۍ کـې نـه د امريکـايي سـيالاني ژونـد خونـدي دی او نـه هـم د امريکـايي ژورنالیسـت ژونـد محفـوظ دی ، نـه امريکـايي سـوداګر پـه آرام حالـت کـې سـوداګري کـولای شـي او نـه امريکـايي سياسـت مـدار او امريکـايي معلـم او مـتعلم د امـن او آرامـي احسـاس کـولای شي.

کـه امريکـايي چـارواکي نورهم په افغانسـتان کې جګړه جاري وساتي ليري نه ده چې د دې نامشروعې جګړې لمبې بـه خپله د امريکايـانو لمـن هـم ور سوځوي او هغـوی بـه پـه شـته امنيتـي مشـکلاتو سـر بيـره لـه نورو ګوابنونو سره مخ کوي.

جنګي جنايتونه

(اګست)

سید سعید

دروان (۲۰۱۷) کال د اګست دمیاشتي په ۵مه نیټه د پکتیکاولایت دسرحوضې ولسوالۍ مربوط په سروحوضې کلي کې د داخلي عسکرو په ډزو کې پنځه تنه ملکي وګړي شهیدان اوټپیان شوي دي.

داګست په ۷مه دهرات ولایت د شیندنډ ولسوالۍ په مربوطاتو کې داخلي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي شهیدان کړ ي دي.

داګست په ۸مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په مملې سیمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتیادچاپې په مهال دوه تنه ولسي وګړي ژوبل کړي او یو بل ولسي وګړی یې شهید کړی دی.

داګست په ۱۰مه د ننګرهار ولایت د هسکې مېنې په پاپین سیمه کې د یرغلګرو په بمبار کې شپاړس تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي. دهسکې مېنې ولسوال سازولي شینواري دپیښې پر پخلي سربیره زیاته کړې چې: د بهرنیو ځواکونو له لورې دملکي وګړو یو موټر چې اته نفره ولسي وګړي پکې سپاره وو، په نښه شوی او اته تنه نور چې پلي روان وو، په نښه او ټول شهیدان شوي دي.

داګست په ۱۱مه دفاریاب ولایت ددولت اباد ولسوالۍ په تورته عطا سیمه کې د داخلي عسکرود ډبسي توپ په ډزو کې دولس تنه کوچنیان او دوې ښځې شهیداني شوې او درې تنه نور ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

داګست په ۱۱مه د کندز و لایت د امام صاحب ولسوالۍ په مومن اباد سیمه کې داخلي ځواکونو دملکي خلکو په کورونو بمبار کړی، په بمبار کې څلور تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ژوبل شوي دي

داګست په ۱۸مه د کنړ ولایت دسرکانو ولسوالۍ په ګنجګل سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان شوي او مور یې ټپي شوې ده.

د اګست په ۲۰مه د بادغیس ولایت دمرغاب ولسوالۍ په بازار کې داخلي کماندویې عسکرو پنځه تنه

ولسي وګړي د ښځو او کوچنيانو په ګډون شهيدان اوټپيان کړي دي.

داګست په ۲۰مه د ننګرهار ولايت د بټي کوټ ولسوالۍ په نواقلو سيمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملګرتيادچاپې په مهال دخلګو شتمنۍ لوټ کړي او درې تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي دي.

داګست په ۲۱مه د فارياب ولايت د شرين تګاب ولسوالۍ دګورآغلي سيمينيواوسيدونکی (محمد ولدعلي) اربکيانوشهيد کړی دی.

د اګست په ۲۱مه د کندز ولايت مرکز اړوند دګورتيپې په چهاردرچيانو سيمه کې يرغلګرود داخلي عسکرو په ملتياچاپه وهلې، دکورونو دروازې يې ماتي کړي، ګڼ شمېرخلګ يې وهلي او څلور تنه ولسي وګړي يې د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

داګست په ۲۳مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍپه جنجای سيمه کې د اشغالګرو په ډرون برید کې درې تنه ملکي وګړي شهيدان او ژوبل شوي دي.

داګست په ۲۶مه د کندز ولايت دچهاردرې ولسوالۍ په نهرصوفي سيمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې يووس تنه ملکي وګړي شهيدان او ټپيان شوي دي.

داګست په ۲۷مه د کندز ولايت د چهادرې ولسوالۍ په سجانيو سيمه کې اشغالګرو د داخلي عسکرو په ملتياد ملکي خلکو په کورونو چاپې وهلي، د کورونو دروازې يې په بمونو الوزولي، خلک يې وهلي او شتمنۍ يې ورځخه لوټ کړي.وروسته يرغلګرو په کورونو بمباریکړې، چې د يو شمېر کورونود ويجاړۍ سربيره پنځه ميرمنې او ماشومان شهيدان اوژوبل شوي دي.

داګست په ۲۸مه د تخار ولايت د اشکمش ولسوالۍ په کوکه بلاق سيمه کې د داخلي عسکرو په ډزو کې يو ملکي وګړی(حاجی خداداد) شهيدشوی دی.

داګست په ۲۸مه د هرات ولايت د شيندنډ ولسوالۍ د بخت اباد سيمې په معروف کلي کې ديرغلګرو په بمبار کې څلويښت تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي، په شهيدانو کې زياتره ښځې او کوچنيان دي.د هرات دوالي ويانډ جيلاني فرهاد بي بي سي سره خبرو کې منلې چې په پيښه کې ملکي وګړي په ځانګړې توګه ښځې او ماشومان شهيدان شوي دي.

داګست په ۲۹مه د ننګرهار ولايت په خوګيانو ولسوالۍ کې اربکيانو دينې عالم (مولوي عبدالحکيم) دماښام له لمانځه وروسته جومات کې شهيدکړی دی.

د اګست په ۲۹مه د لوګر د مرکز اړوند دشت باري سيمه کې د اشغالګرو په بمبار کې ديارلس تنه ملکي هيوادوال شهيدان شوي او اووه تنه ټپيان شوي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس، پژواک =،خبريال ويبپاڼه ، لراوبر=، نن ټکی اسيا=او بينوا=].

غزل

عبدالقدوس فاتح

غـــزل

انعام نعیمی

دلتـه د ځوانـو شـازلمیانو لا جـذبې ژونـدی دي
دلتـه غلیمـه بـلا ډېـرې ککـرۍ مـاتې شـوې

تـه پـه کـوم نیـت راغلـې دا لاره درتـه چـا وښـوده
دلتـه بلهـا بلهـا لښکرې د نـړۍ مـاتې شـوې

لږ تـاریخ ولولـه، تفـوس دې لـه ګاونـډ نـه وکـړه
ټانګ، طیارې، په کلک ایمان، او پـه لیندۍ مـاتې شـوې

تـه بـه هـم مـاتې خـورې رسـوا او شـرمینده بـه وځـې
د مضبوط عزم، بنـدیوانو تـه هتکـړۍ مـاتې شـوې

شـوخې دې معـاف وي، دانعـام دمحبـت کیسـه ده
پـه یارانـه کـې ورتـه ښـې ډېـرې جینـۍ مـاتې شـوې

زمـا پـه خـوار مظلـوم ولـس ، بمـــونه مـه وروه
ظالمـــه نـور د خپـل هَـوَس ، بمـــونه مـه وروه

نـه جنـازې نـه مـو ودونـــه درنـه روغ پـاتې شـول
أخ پـه غـاټول او پـه نَـرګَسْ ، بمـــونه مـه وروه

زه خـو یتیـــم یمـه غریـب یمـه ډوډۍ نـه لـرم
راټولومـه غـره کښـې خَـسْ ، بمـــونه مـه وروه

پـه مدرســو او جومـاتونو او کـــورونو مـو نـور
ظالمـــه مـــه وَرَوهْ بـس ، بمـــونه مـه وروه

درتـه راویښ بـه کـړي لا نـور هـم دا ویـده قومـــونه
ورتـــه د ننـګ بـه شي جَـرَسْ ، بمـــونه مـه وروه

هـر کـور کـې ښـځې ماشـومان درتـه ښـیراوي کـوي
پـه شپـه او ورځـې مـو پـه نَـسْ ، بمـــونه مـه وروه

مـونږه د هـر یـوه وحشـت نیـولی شـمار « فاتحـه »
بـدل یـې أخلـــو یـو پـه لَـسْ ، بمـــونه مـه وروه

ازادي

زړونه سـاړه

 # شاعر: فضل باري مشفق

(نظام)

څوک چې مونږ نه پېژني مونږ هم هغه نه پېژنو
د تکبّر پر مست نیلي دا سپاره نه پېژنو

دا چې اِکرام د هر مېلمه کوو دستور دی زمونږ
خو چې په زور راشي بیا دا مېلمانه نه پېژنو

زمونږ دوستي ده تل تر تله د اسلام لپاره
له دې سپېخلي پاک مسیره کاړه نه پېژنو

چې د مظلوم له فریادونو نه ځان نه خبروي
دا د غفلت په خوب ویده او کانه نه پېژنو

هم دې ځان ورور بولي او هم دې وي د وینو تږی
په زړه کاړه دا تش په ژبه خواړه نه پېژنو

چې نه احساس نه ننګ غیرت نه افغانیت وي پکې
ورک دي شي مونږه دا سي زړونه ساړه نه پېژنو

نظامه سترګې چې لري او حقیقت نه ګوري
دا په جادو د څو ډالرو رانده نه پېژنو

په بیرغو په شعارو او په مېلو ازادي
لمانځي دا خلک د خپل ځان په تېر ایستو ازادي

وطن اشغال، نظام اشغال او جغرافیه اشغال ده
چا په چوکی چا کړله خرڅه په پیسو ازادي

دلته تعریف د ازادی دی بدل کړی خلکو
ځکه وتلې د مخلوق له ارادو ازادي

ازادي تل اخیستل کیږي په همت او په زور
نه په زاری کیږي او نشي په سلګو ازادي

تاریخ به لیکي په خندا او تکي تکي تکي
چې دلته خلکو اخیسته په کنسرتو ازادي

مورِ په دې ویاړو چې نیکو مو ازادي کتلې
خو نن ورځ وتې ده زمونږه له لاسو ازادي

خدایه دا سوال مې کړه قبول دغه زاری مې واوره!
سوله مو خپله کړه او راکړه له جګړو ازادي

مشفقه ژوند به مې تر هغې لالهانده وي چې
ترڅو وانخلو له کافر او له پردو ازادي

۲۰۱۷ زکال

داکست د میاشتې جهادي خبرونه

MORCHAL

Islamic, Jihady, Educational and Cultural Monthly Journal